# د رحمان بابا پر شاعري د روښاني شاعرۍ د اثراتو جائزه

# Impact Analysis of Roshanites Poetry on Rehm Baba’S Poetry

عبدالرحمٰن کاکړ*

**Abstract**:

The most prominent poet of Pashto; Rehman Baba had thoroughly studied the contemporary literary pieces with a special reference to Pashto & Persian Literature which is reflected in his poetry. Peeping back in the literary contribution of Rowshanites the author argues that the very spiritual source of Rehman Baba is traced in their poetry. The author strived to compare the philosophical sufic thoughts of Rehman Baba with Rowshanite’s mystical approach.

که څۀ هم ځنې څېړونکي له دې سره اتفاق نۀ لري خو بیا هم وئیلی شو چې تصوف یا روحانیات د مذهبي فکر یوه څانګه ده. د تصوف پوهان په مذهبي بڼه کښې د ټولنې وګړي د ځان خوا ته هڅوي. دا عمل په هغه هره ټولنه کښې تر سترګو کېدلی شي، چرې چې مادي ژوند زیات پر مختګ نۀ دی کړی.

پښتني سیمې نن هم د نړۍ له پرمخ تللو توکومونو څخه پر لوی واټن د شا لوري ته پراته دي. د روښانیانو په دور کښې خو ډېر پاته وو، ځکه یې په ټولنه کښې مذهبي او تصوفي رحجان زیات وو.د رحمان بابا په دور کښې هم مذهبي رحجان په زور کښې ؤ، پیري او مریدي هم هغه ډول دوام درلود لکه څنګه چې د روښانیانو په دور کښې ؤ. تر څو چې د ربنانیاني شاعرانو د شاعري خبره ده نو ډېره زیاته برخه یې صوفیانه رنګ لري، ښخي په حساب اشعار یې تصوفي یا مذهبي بڼه نۀ لري.

د رحمان بابا شاعري نۀ د روښانیانو په ډول بشپړه صوفیانه رنګ لري او نۀ د راوروسته شاعرانو په څېر قامي، انقلابي یا بل رنګ لري. غالب رنګه یې اصلاحي، اخلاقي او تصوفي دی خو انداز او بیان و مطالب یې ښېل رنګ لري.د ښېل مکتب رنګ یې اخیستی دی. که څۀ هم تر رحمان بابا مخکښې د دې رحجان شاعري شوې ده خو رحمان بابا په دې کښې نوی والی راوړئ او وسعت یې ورکړی دی. د روښانیانو په مقابله کښې د رحمان بابا شاعري خوږ لت، رواني، سادګي او جامعیت لري. قامي یا انقلابي رنګ خو نۀ لري لیکن جمالیاتي څرک ضرور لري.

*Lecturer, Department of Pashto University of Balochsitan Quetta

لکه چې اشاره ورته وشوه د روښانیانو میدان تصوف دی او د رحمان بابا پر شاعري هم اغلبه رنګ اخلاقي او صوفیانه ګڼل کیږي او دلته ګورو چې د روښانیانو څۀ اثرات پر رحمان بابا باندې شته که نۀ؟

روښاني ادب یا شاعري کښې که وګورو نو ځنې ځایونو کښې داسې افکار په نظر راځي چې د رحمان بابا له شاعري سره ورته والی لري. په دغه کښې زیاتره د موضوع ورته والی لري او لوستونکی په دې خیال کښې شي چې ګنې رحمان بابا د روښانیانو شاعري لوستې ده. رحمان بابا په خپله شاعري کښې د روښاني شاعرانو نومونه په داسې انداز یاد کړي چې ګوا ده تر روښانیانو ښه شاعري کړې ده، یعني د تعلي په توګه یې یادونه کړې ده. معنٰی دا چې لکه ستر خوشحال دۀ هم په ادبي ډګر کښې د روښانیانو یادونه د دې خبرې دپاره کافي ثبوت دی چې ګوا ځنې روښاني شاعران د خپل وخت وتلي شاعران وو. بل دا چې رحمان بابا خو د دوی یادونه د خوشحال بابا سره کړې ده:

خوشحالا او دولتا مې غلامان دي
زۀ رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم"(1)
د مرزا د ارزاني دعوې به پرې کا
قدردان د شاعرانو رحمان راغی"(2)

خو دا به رحمان بابا ته د وئیلو پرته څنګه ښکاره کېدله چې فلانی شاعر ښۀ یا کمتره شاعر دی؟ مطالعه که د هر وګړي دپاره ارزښت ناکه وي، د شاعر دپاره خو ډېره ارزښت ناکه وي. نو رحمان بابا چې دومره اوچت شاعر دی، د ادبیاتو غرقه مطالعه یې هم کړې ده. په ځانګړې توګه د پښتو ادب د شاعرۍ په ډګر کښې خو ارو مرو مطالعه کړې ده. چې مطالعه وکړل شي او بیا د داسې څیز چې لوستونکی ځنې متاثره شي نو دغه اثر په غیر شعوري توګه د لوستونکي په لیک کښې رابرسېره کیږي. دغه ډول د رحمان بابا په شاعري کښې هم ځنې داسې علامې شته چې ورته روښاني افکار یا د هغوی اثرات وئیلی شو.

حبیب الله رفیع په دې حقله لیکي:

"خصوصاً د دۀ په دیوان کښې داسې اشارې او دلایل شته چې دی د فکر او شعر له مخې د روښانیانو پیر ؤ او د روښان په هغه روښانه لاره یې یون کاوۀ چې درویزه یان یې کلک مخالف ؤ او د دې لارې په ورانولو کښې یې ټول ژوند صرف کړی ؤ" (3).

دلته دا خبره باید سپینه کړل شي چې رحمان بابا د تصوف یا روحانیت په حقله د روښاني پیروکارانو څخه بېل فکر لري. عقیده باندې یې هغه ډول د نیوکې ځای نۀ شته لکه کوم چې د

روښاني پیروکارانو پر عقائدو باندې د دوی د مخالفینو یا منبر له خوا شوي دي. رحمان بابا دومره زیات غیر جانبداره پاته شوی دی چې شاید د دۀ مخالفین د نیشت برابر ؤ او نن هم نۀ شته او روښانیان د مغلو سره سره د روایتي او راهبانه طرز تصوف په ضد درېدلي چې د پلویانو له خوا يې زښت زیانونه پورته کړي. له دې پرته يې په لیک کښې هم د دوی په ضد اولس راپارولی.. په لاندې کرښو کښې د روښاني شاعرۍ فکري اثراتو جائزه اخلو.

باید دا هم ووایم چې د روښانیانو هغه اشعار چې د رحمان بابا له اشعارو سره ورته والی لري، ځنې داسې اشعار په کښې دي چې د هغوی اساسي فکر له قران یا حدیث څخه اخیستل شوی وي یا د بل عالم او دانا قول وي ځکه د داسې شعر په حقله دا نۀ شو وئیلی چې د چا تر اثر لاندې لیکل شوی دی.له دې پرته ځنې هغه شعري تراکیب دي چې د رحمان بابا او د روښانیانو په شاعري کښې راوړل شوي دي او ورته والی سره لري خو که ورته وګورو ځنې داسې اشعار په کښې شته چې په موضوعاتي لحاظ له یو بل سره ډېر ورته والی لري. فکري چوکاټ يې بېخي یو ډول وي. د دې پر اساس وئیلی شو چې رحمان بابا له روښانیانو څخه اثر اخیستی دی او د روښانیانو افکار او شاعري يې وئیلې ده.لکه عشق د تصوف له اساسي موضوعاتو څخه دی. د روښانیانو په شاعري کښې د عشق په حقله اشعار شته او د رحمان بابا د شاعري خو اساسي موضوع ده. د بېلګې په توګه د مرزا خان انصاري د عشق په حقله دا نظر لري چې د کائنات د پېل سوب عشق دی. که عشق نۀ وای، کائنات به په وجود کښې نۀ وای راغلی. الله پاک د محبوب کبریا سره د مینې له سوبه دا کائنات په وجود کښې راوستلی دی، ځکه وئیلی شو چې عشق ته د هر څۀ پلار وئیلی شو. مرزا خان انصاري په دې حقله لیکي:

کل جهان له محبته پیدا شوی
دا رېښتینی عشق د کل جهان ابا"(4)

دغه ډول رحمان بابا د عشق په حقله همدغسې خبره کوي:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا"(5)

په اساسي توګه د دې شعر عمارت د مرزا خان انصاري له خوا درول شوی دی خو رحمان بابا لږ زور په کښې راوستلی دی.

دغه ډول اخلاص هم د تصوف له اساسي موضوعاتو څخه دی. بلکې اخلاص خو د اسلامي شریعت او روحانیت داسې اصول دی چې له دې پرته اعمال کول هیڅ ګټه نۀ لري، که په ښکاره هر څو نیکه او سمه ښکاري خو هغه عمل د اخلاص پرته هیڅ معنٰی نۀ لري. د اخلاص له سوبه خو

اسلامي واکمني په نړۍ کښې رعب او دبدبه درلودله او نن هم برياليتوب يوازې په اخلاص کښې دی. تر دې چې مسلمان ته مسلمان نۀ شو وئيلی چې په اخلاص يې د اسلامي عقائدو تصديق کړی نۀ وي.

مرزا خان د خپل اخلاص اظهار کړی او له ريا څخه يې د ډېره کولو خبره په شعر کښې په دې ډول کړې ده:

په ساده جامه ښکه قلندر يې
د ريا خرقه دې واچوه ژر شه"(6)

هم په هغه انداز او تراکيب او فکري چوکاټ کښې رحمان بابا داسې وايي:

د ريا خرقه يې خدای مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی"(7)

دغه رنګه ارزاني د توحيد دپاره د دويي ختمول ضروري ګڼي او وايي چې د دويي له زحمته دې ځان نۀ وي خلاص کړی، و توحيد ته رسېدلی نۀ شي ولې چې دويي يو مرض دی. يعني دويي روحاني مرض دی او زړۀ له دې څخه پاکول ضروري دي.

دا دويي دي کل زحمت دی
زړګی خلاص کړه له دې مرضه"(8)

يا بل ځای وايي:

ژو تر ميانه ورانه نۀ کړې د تن پوله
و به نۀ رسې تر خدايه تر رسوله"(9)

رحمان بابا د شريعت په دائره کښې دننه د تصوف قائله دی او هره داسې مسله د شرعي په پيمانه تلل غواړي او په ډاګه يې دا خبره روښانه کړې چې زۀ هر څۀ وايم هغه د قرآن او حديث څخه را اخيستل شوي دي. دلته هم رحمان بابا لکه څنګه چې په قرآن کښې دي چې شرک عظيمه ګناه ده يعني له دې ډېره کول په کار ده. رحمان بابا وايي چې تر څو دې له شرکه ځان خلاص کړی نۀ وي توحيد ته رسېدل هيڅ امکان نۀ لري. رحمان بابا وايي:

په دويي کښې به ورنه شې تر توحيده
ژو ضمير دې خالي نۀ شي له اشراکه"(10)

خو دلته له دويي څخه د دوی مراد د سکونت درجې ته رسېدل دي، په ځانګړې توګه د ملا ارزاني شعر کښې دی غواړي چې سالک ته په کار دي چې د کثرت څخه د وحدت پر لور سفر

وکړي او د وحدت پر لوړه څوکې فائز شي. یعني روحاني سفر سکونت ته رسولو پس یې له دویي څخه بېل ګڼي.

د رحمان بابا د شعر فکري چوکاټ د شرعي اصولو په پابندۍ کښې راګیر دی، بیا هم دا ګمان امکان لري چې رحمان بابا هم د تصوفي نظر خیال په کښې ساتلی وي، په ظاهره داسې نۀ ده. دلته زمونږ چې کوم مرام دی،د رحمان بابا له روښاني شاعرۍ د اثر اخستلو په حقله، هغه تت غونډې ښکاري چې د شعر مطلب یې د دویي پر ضد ګام پورته کول، هغه په دواړو اشعارو کښې بېلته ښکاره دی.

یو بل ځای د مرزا خان انصاري او د رحمان بابا د خیال ورته والی وګورئ چرې چې دواړو و یو داسې تصوفي نظر ته اشاره کړې چې سالک ته په کار ده چې د فردوس په طمعه یا لالچ باید اطاعت نۀ وکړل شي. دا تصوفي فکر د رابعه بصري له وخت څخه را پېل شوی دی. مرزا خان انصاري په دې حقله لیکي:

که رښتیا پېروي وکړې :: د رښتینو به رهبر شې
له فردوسه به توبه کړې :: بې پروا به له سقر شې"(11)

دغه ډول رحمان بابا هم په دې نظر دی چې له کله څخه مو د محبوب و خوا ته قدم اخیستی دی، له هغه وخته مو د جنت خیال نۀ دی کړی او له دې غم څخه مو ځان خلاص کړی دی.

زۀ رحمان یې د فردوس له غمه خلاص کړم
چې په کلي په کوڅه شوم د خپل یار ګډ"(12)

د مرشد توصیف کول او د هغۀ د لوړو کراماتو ذکر کول په تصوف کښې عمومي رویه ده. که څۀ هم د دې رویې له سوبه د تصوف پر ټول تحریک منفي اثر غورځېدلی دی. ولې چې د دې له سوبه شخصیت پرستي ته دوام ورکول شوی دی. حالانکه شخصیت پرستي په اسلامي روحانیت کښې د تصوف امام حضرت ابوبکر صدیقؓ د نبي اکرمﷺ له دې دنیا څخه سترګي پټېدو پر وخت له مینځه وړې وه. د مرشد زیاته ستاینه او و مرشد ته تر پېغمبر یا خالق کائنات هم لوړه درجه ورکول په ځینو تصوفي فرقو کښې رواج لري. دا د عقیدې رنګ خپل کړی دی چې پر ټولنه یې ډېر زیات منفي اثر غورځولی دی.

د رحمان بابا په حقله په تېرو کرښو کښې ووئیل شو چې هر څۀ یې د قرآن او حدیث په رڼا کښې کړي دي او په خپله یې وئیلي چې ده څۀ وئیلي دي هغه مو د قران او حدیث سره موافق کړي دي. د رحمان بابا دغه شعر زیات شهرت موندلی، په ځانګړې توګه په تصوفي حلقو کښې ښۀ شهرت لري.

د رحمان بابا دغه شعر پر دۀ باندې د تصوف د زیات اثر وخوا ته اشاره کوي او که دا ووایم چې له صوفیاوو کرامو سره نږدې پاته شوی دی. ولې د چا خوی او خصلت هلته معلومېږي کله چې نږدې ورسره پاته شي. د تصوف دغه اثر پر رحمان بابا له تېرو تصوفي حلقو څخه شوی دی. لکه د روښاني غورځنګ پیاوړی شاعر مر زا خان انصاري د مرشد ستاینه په دې ټکو کښې کړې ده:

په جنوب او په شمال یې قدم کښېښود
په یوه نفس له غربه ځي تر شرقه"(13)

دلته شاعر وایي چې مرشد یې په کائنات کښې له یوه سره تر بله په یوه ساه کښې یا د سترګو په رپ کښې رسیږي. دغه ډول رحمان بابا هم د دروېش یا روحاني شخصیت دپاره و دغه کرامت ذکر کړی دی. رحمان بابا وایي:

چې په یوۀ قدم تر عرشه پوري رسي
ما لیدلی دی رفتار د درویشانو"(14)

که څۀ هم د رحمان بابا او مرزا خان انصاري دواړو و یو ډول کرامات ته اشاره شوې ده خو د رحمان بابا او مرزا خان انصاري په فکر کښې اساسي توپیر دا دی چې مرزا خان انصاري د مرشد تعریف کړی دی او رحمان بابا د حقیقي روحاني شخصیت، د یو داسې روحاني شخصیت چې د کامل و درجه ته رسېدلی وي. یعني رحمان بابا څوک مختص کړی نۀ دی خو اشاره یې و هغه چا ته کړې څوک چې پر حقیقي روحاني اصولو په رڼاکښې د پیر کامل درجې ته رسېدلی وي.

له دې شعر څخه د رحمان بابا د تصوفي فکر او ژور روحاني حالت هم اندازه لګیږي. دا شعر کښې مسله تمثیل ته اشاره شوې ده.د مسله تمثیل په حقله سني مسلکه علماء د دې نظریې اثبات کوي او جواز کښې یې ورته د حضرت عمرؓ د روایت کړل شوي حدیث حواله ورکوي په کوم کښې چې حضرت جبرائیلؑ له نبي ﷺ څخه د دیني احکامو په حقله پوښتنه کړې وه. هغه وخت جبرائیلؑ د حضرت وحیه کلبیؓ په شکل کښې راغلی ۀ.

د تصوف پیل له زړۀ کیږي پر زړۀ باندې تمامیږي. ټوله کار پر زړۀ باندې کیږي. د نبيؑ حدیث مبارک هم دی چې په بدن کښې یوه ټوټه ده، که دا سمه شي نو ټول بدن به سم وي. دا د زړۀ په باره کښې وایي. د زړۀ دغه تصور په روښاني ادب کښې هم په نظر راځي او وروسته د رحمان بابا په شاعري کښې هم دغه فکر شته. خو د رحمان بابا کمال دا دی چې هغه فکر په ډېر ښه، ساده او روانه ژبه کښې وړاندي کړي. دلته د مرزا خان انصاري هغه شعر راوړم چې په کښې د زړۀ په حقله خبره کړې ده:

د جليل کعبه په تا کښې ده سازلې
د غفلت په خوی دي خوښه کړه اوجاړه"(15)

يا دا وايي:

د خليل کعبه به ووينې په کور کښې
که په زړۀ د جم و جام وته وخېژې"(16)

رحمان بابا همدغه خبره په دې انداز کښې کوي.

د خليل تر کعبې دا کعبه د لويه
که اباد کا څوک ويران حرم د زړۀ"(17)

د روښانيانو شاعري د روښاني تصوف شاوخوا راچورلي. روښاني تصوف يې اساسي موضوع ده. د روښانی تصوف عمارت پر روښاني تصوفي مقاماتو ولاړ دی. د رحمان بابا په شاعري کښې لټوو چې د روښاني مقاماتو اثر څومره په کښې ښکاري؟

هسي خو دا په اته مقامونو باندې مشهوره دي خو په دې کښې اول څلورو ته مقامونه او پاته څلورو ته سيرونه وايي. پر دې اته مقامونو په لاندې کرښو کښې خبره کوو خو د رحمان بابا د شاعرۍ څخه به هم هغه اشعار دلته راوړل کيږي کوم چې د دې اته مقامونو سره معنوي ورته والی لري يا په نورو ټکو کښې به ووايم چې پر رحمان باباد روښاني تصوف څومره اثر شوی دی. د دې مقامونو راوړلو مرام دا هم دی چې د رحمان بابا عمومي تصوفي نظر هم راڅرګند شي يا پر ده د روښاني فکر اثرات هم راته څرګند شي. راګرځو روښاني تصوفي مقاماتو ته چې لومړی په کښې شريعت دی.

شريعت: شريعت د روښاني تصوف لومړی مقام دی. د دې مقام اساسي نکته شريعت دی. و سالک ته د شريعت د احکامو او پر هغه د عمل کولوامر د پير کامل له خوا کيږي. پير روښان د شريعت په حقله په دې نظر دی:

" ګوره! د شريعت ورمندن ګفتار د پيغامبرانو دی او چار د پنځه بنياد د مسلمانۍ ده په ادميان او ګناه د شريعت نۀ نغته د شريعت ده او نغته د نوس او د شيطان چې ليږی يې و بې شريعت و ته او بې شريعت لکه لېوه دی، چې په کښې قرار دی هغه هسې دی لکه څناوران"(18)

مرزا خان انصاري وايي:

شريعت رښتيا ګفتار دی، صادقان دې اطاعت کا
د اسلام پنځه بنا دي، مومنان دې تابعت کا"(19)

شريعت ثابت کلام د پېغمبر شه
د روښان يار په ثابت کلام بلند دی"(20)

تر څو چې د رحمان بابا د شاعري خبره ده، رحمان بابا داسې شاعري کړې ده چې د دهٔ په خيال:

دا چې زهٔ و تاته وايمه که خدای کا
په آيت او په حديث کښې به څرګند وي"(21)

لکه ارزاني خوېشکي چې وايي:

د فقير وينا تندرسته :: په ايات حديث ده درسته"(22)

رحمان بابا له منکراتو څخه ډېره کولو يا د شرعي پابندي کولو ادعا داسې کړې:

چي واده يې کا په ډول او په سرنا
بيا پرې وايي زمانه د وير وينا"(23)

يا داسې وايي:

په هغو غوږو چې ذکر د خدای اورې
بيا سماع په هغو غوږو د رباب کړې"(24)

د رحمان بابا شاعري د حقيقي اسلامي روح عکاسي کوي. د دهٔ شاعري هم د شريعت او هم د طريقت په ګاڼه پسوللې ده. چونکې د دهٔ په شاعري کښې مذهبي رنګ غالبه دي ځکه دا وئيلی شو چې شرعي نقطه نظر په ښه توګه په کښې واضح کړل شوی دی.

شريعت پر اساسي عقائدو زور ورکوي او د رحمان بابا په شاعري کښې هم مونږ ته څنې اساسي اسلامي عقائد په نظر راځي او رحمان بابا خپل نظر يا په بله معنٰی شرعي نقطه نظر وړاندي کړی دی، د بېلګې په ډول د اساسي اسلامي عقائد، توحيد، ختم نبوت، تقدير، جبر او اختيار او دغه ډول نوراسلامي عقائد يې په خپله شاعري کښې راوړي دي. معنٰی دا چې د روښاني شاعرۍ او نثر په څېر د رحمان بابا په شاعري کښې هم د شريعت پر مقام زور ورکول شوی دی.

خو کله چې د شريعت او روحانيت ټکر راځي، رحمان بابا هلته د شريعت پلوي توب کوي. دغه ډول د رحمان بابا صوفيانه نظر له روښاني يا له ځينو نورو تصوفي سلسلو څخه بېلتون مومي لکه په لاندې شعر کښې د شخصيت پرستۍ غندنه، آن تر دې چې د هغه هستۍ درجه يې

هم د شریعت د دائرې مطابق ټاکلې ده د چا له رویه چې ټول کائنات پیدا شوی دی. رحمان بابا وایي:

خدای یې مه ګڼه بې شکه چې بنده دی
نور یې کل واړه صفات دي په رښتیا"(25)

رحمان بابا که څۀ هم د انسانیت د ورور ولۍ خبره په خپله شاعري کښې کوي خوداسې ښکاري چې رحمان بابا شرعي تفاصیل د سني مسلک له قوانینو سره سم کوي. د نورو اعادو تر څنګ په یو شعر کښې داسې هم وایي:

دا څلور مذهبه واړه سره یو دي
ما او تا په کښې پیدا کړ اختلاف"(26)

د رحمان بابا په شاعري کښې د شریعت په حقله بلا ډېر اشعار شته او د لوستونکو تر نظر به تېر شوي وي، دلته راته هسې تکرار ښکارېږي ځکه پر دې شعر یې ختمول غواړم:

باړه اوتړه هله کښت و زراعت کړه
تقوٰی دار شه هله طمع د جنت کړه"(27)

د رحمان بابا پر شریعت باندې دومره زور ورکول هم د ښۀ روحانیت زېرې دی لکه لوی عالم پروفېسر ډاکټر پروېز مهجور صاحب چې لیکي: "شریعت د تصوف آغاز هم دی او انجام هم"(28)

خدای له هسې زاهو زاده امان راکړه
چې بې دین بې دیانت شي بې نماز"(29)

طریقت: پوهانو او عالمانو د طریقت ډول ډول تعبیرونه کړي دي خو لغوي معنٰی یې طریقه ده، په اصطلاح کښې د نبيﷺ پر طریقو باندې عمل کولو ته وئیل کیږي. په تصوفي اصطلاح کښې د دې دپاره سلوک عمومي توګه کارول کیږي.

دا په تصوف کښې روحاني ژوند ته د رانټوتلو لومړی پړاو وئیلی شو. ولې شریعت خو پر ښکاره یا ظاهر باندې زور ورکوي. دا پړاو کښې د پیر کامل له خوا ډول ډول تصوفي طریقې ورښوول کیږي چې سالک یې په ټاکل شوي وخت کښې تر سره کوي خو دا ټولې طریقې د نبيﷺ له سنت څخه اخیستل شوي وي.

"ګوره ورمندن په طریقت کښې په لیرونی هغه دی چې مشغول یې وي په رکوع په سجود په قعود په قیام په روژه په تسبیح په تهلیل په چار د پېغمبران تل د ژبې په لوستن چې دی زبان"(30)

او مرزا خان انصاري وایي:

طريقت د فرشتو خوی دی :: چې بندګي په هر ساعت کا"(31)

رحمان بابا وايي چې دروېشان چونکې د الله او د رسول پر احکامو عمل کوي،دوی و الله او رسول ته رسېدلي خلق دي. څکه که څوک غواړي چې د الله او رسول رضامندي تر لاسه کړي هغوی ته هم د دروېشانو پر لاره تګ کول په کار دي.

په دغه لارې به ورشي خدای رسول ته
که څوک يون کاندي په لار د دروېشانو"(32)
دلته دم او قدم دواړه په حساب دي
پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه
راستولی خدای حساب دی په کتاب کښې
خبر زده کړه له حسابه له کتابه
ته وخپلو نيکو بدو ته نظر کړه
چي بدي دي څو تېری کړې له ثوابه"(33)

حبيب الله رفيع د رحمان بابا د روحي سفر قائله دی او دا فکر لري چې رحمان بابا په باقاعده توګه روحي سفرونه کړي دي او د رياضتونو له لارې هغه مقام ته رسېدلی کوم چې د يو سالک دپاره تاکل شوي وي.

"رحمان بابا د خپلو رياضتونو، تمرينونو، عبادتونو، او ذکرونو په نتيجه کښې توانېدلی ؤ چې په محسوس ډول د خپلې اروا او د سېر او سياحت لاره وويني او په صراحت او قاطعيت يې بيان کړي. دی په خپل ديوان کښې دې موضوع ته ګڼې اشارې لري"(34)

طريقت د مقام پرته د ټول روحاني ژوند دپاره هم کارول کيږي خو بيا هم يې اساسي معنٰی د خدای او د رسول د احکاماتو مطابق ژوند تېرول. خو د ځينو صوفياوو کرامو له خوا د طريقت اصطلاحي معنٰی خدمت خلق ښوول شوې ده لکه د سعدي شېرازي مشهوره شعر دی چې طريقت خدمت خلق ګڼې نۀ تش تسبيح او مصله. دغه ډول رحمان بابا هم يو ځای دې ټکي ته اشاره کړې چې څوک خدمت خلق کوي، سرې او تودې پر ځان وړي هغه به هر وخت په امان وي.

هغه زړۀ به له طوفانه په امان وي
چي کشتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي"(35)

حقيقت: حقيقت د روښاني مسلک دريم مقام دی. دلته د تېرو درو مقامونو د لوازماتو سره سره پر مخ تګ هم دی. د حقيقت له اوامرو څخه لوی امر دا دی چې سالک به د ذکر پابندي کوي

او د غفلت څخه به ځان ژغوري. ډاکټر پروېز مهجور صاحب د حقیقت د مقام په حقله په خپل اثر روښاني تصوف کښې په دې حقله خپل نظر څرګندوي:

"شریعت، طریقت او حقیقت د شرعې عمل یو تواتر دی او په عملي توګه یو ناوېشلی عمل دی. د حضورۍ د تسلسل ساتلو له پاره دائمي ذکر خلوت او عزلت ډېر ضروري دی"(36).

رحمان بابا د ذکر دائمي په حقله لاندې ورکړل شوی نظر لري: ښايي چې و مقام حقیقت ته یې اشاره وي:

واړه زهر و قاتل نغري که پوهېږې
که سېوا له خدایه نغرې هر انفاس"(37)

یو بل ځای داسې وايي:

ستا په یادو رحمان هسې رنګ مشغول دی
چي په زړۀ کښې یې هیڅ غم د وصال نۀ شته"(38)

رحمان بابا د دائمي ذکر یا ټوله ورځ او شپه د خدای په یادو تېرولو ټول ساعتونه عبادت ګڼي:

چي مطلب و مدعا د سړي خدای شي
ناست ولاړ یې همه واړه عبادت شي"(39)

مرزا خان انصاري حقیقت د ځان یعني د ظاهر او باطن پاکي ګڼي:

حقیقت پاکي د من دی :: دا پاکي د ما و من دی
هوش بردم فهم قدم دی :: هم خلوت درانجمن دی"(40)

په روحاني سفر کښې پر رحمان بابا یو وخت داسې هم راغلی چې د اشیاوو حقیقت ورته څرګند شوی دی، کوم چې د سالک اساسي مرام وي. په دې مقام سالک ته حقائق ورڅرګندیږي او اشیاء چې څنګه وي هغه ډول ورښکاري.

حقیقت د عالم واړه راښکاره شو
چي د فکر قدم کېښود په آسمان ما"(41)

معرفت: په لغت کښې معرفت معنٰی پېژندګلوي، په اصطلاح کښې معرفت د حق پېژندنه ته وئیل کیږي. مشهوره مقوله ده چاچي خپل ځان وپېژندلی هغه خپل رب و پېژندلی. بایزید روښان له روښاني مقاماتو څخه یو مقام معرفت ګڼي. په خیرالبیان کښې د معرفت په حقله وايي:

"ګوره په معرفت کښې په عارف واجد داورمندن دی چې هيڅ له ما شريک نهٔ ګڼي، هر چې شته په دواړه جهان، په هر نظر د زړهٔ په سترګي و ماوته نظر که په هر څهٔ کښې دي زما هستي بې رنګه ويني لکه ليده عارفان، زما اواز د اوري لکه اروېده به سامعان ادميان"(42).

مشهور روښاني شاعر مرزا خان انصاري هم د بايزيد د معرفت تائيد کوي او د زړهٔ په سترګو د معرفت تائيد کوي:

عجب زېب د معرفت د زړهٔ په سترګو
چي بې مثله نندارہ د دې بېچون کا"(43)

د رحمان بابا په نظر کښې هم د معرفت هغه ډول ارزښت دی. په خپل کلام کښې نېغ په نېغه د خدای پر معرفت زور ورکوي او هغه څوک د انسانانو په زمره کښې نهٔ شماري څوک چې د خپل رب معرفت نهٔ لري.

چي د خدای له معرفته خبر نهٔ شوم
معلومېږم چې يا ديو يم يا دواب يم"(44)

بل ځای د معرفت ارزښت په دې ټکو کښې وړاندي کړی دی

چي د خدای له معرفته خبر نهٔ وي
هغه واړه که بيدار دي هم اوده دي"(45)

معرفت الهي د رحمان بابا په نظر کښې ډېر ژور دی. له داسې بحر سره تشبيه ورکوي د کوم چې هيڅ سر او پای نهٔ معلومېږي. بيا هم انسان تر خپله وسه پوري پر دی.ځکه سالک هڅه کوي چې د رياضت له لارې معرفت تر لاسه کړي.

حد پايان ئې هيڅ سړي موندلی نهٔ دی
معرفت ئې هسې بحر بې پايان دی"(46)

رحمان بابا د دومره لوی او غني ذات د معرفت تر لاسه کولو لويه نسخه راپه ګوته کوي او وايي چې معرفت که هر څو بې پايان دی خو په هر څهٔ کښې څرګند هم دی. که د زړهٔ سترګي بينا وي لکه د روښاني مسلک او نورو تصوفي سلسلو مسلک چې دی چې د زړهٔ سترګي بينا کول اړين دي.

معرفت د خدای څرګند دی په هر څهٔ کښې
سترګي وخوره چې څوک هومره نظر نهٔ کا"(47)

د معرفت ضد حجاب دی چې په روښاني شاعري او د رحمان بابا په شاعري کښې نمونې تر سترګو کیږي.مشهور روښاني شاعر مرزا خان انصاري وايي:

چې د روح له معرفته خبر نۀ وي
د صورت مثال یې نقش د دیوار شي
کل حجاب د سړي واړه ناپوهي ده
د هر چا لیده د فهم په مقدار شي"(48)

دغه ډول رحمان بابا هم د حجاب په حقله وايي:

دا حجاب چې نور عالم یې حجاب بولي
دا زما د یار تر میانه حجاب نۀ دی"(49)

لنډه دا چې رحمان بابا د معرفت درجې ته رسېدلی دی او د معرفت مقام یې په دې ټکو کښې هم یادونه کړې ده:

چې دا هسي معرفت یې پر پېرزو کړو
په رحمان باندې منت د پاک مولا دی"(50)

قربت: په روښاني تصوف کښې قربت پنځم مقام خو اول سیر یا سفر هم ورته وئیل کیږي. په دې مقام کښې سالک هري خوا ته چې کوم اواز اوري هغه د حق اواز ګڼي. د سالک د غوږو پردې لري شي او په هر اواز کښې اواز حق اورېدل د قربت لویه نښاني ده چې د روښاني مسلک پیرو کارانو او پیر روښان خپله دې ته اشاره کړې ده.
سالک چې کله د معرفت په مقام کښې وي لاهم هر اواز د حق اواز ګڼي خو پر ده باندې د هغه اواز تسبیحات نۀ ښېلیږي یعني سالک په دې نۀ پوهیږي چې دا اواز کښې کوم تسبیحات دي، کله چې سالک د قربت مقام ته راشي دلته پر ده د هر آواز تسبیحات ښېل وي او د هر اواز په تسبیحاتو سالک پوهیږي ځکه ورته مقام قربت وئیل کیږي.
د رحمان بابا له شاعرۍ څخه د قربت د مقام نخښې ښکندیږي او لوستونکی دا ګمان کوي چې رحمان بابا د دې مقام خوند کتلی دی او د دې باقاعده تصدیق یې هم کړی دی لکه چې وايي:

هر اشیا د حق ثنا کا :: په نغمه لکه داود
که بیدار شه خود به اوري :: په هر لوري دا سرود(51)

وصلت: وصلت معنٰی نښلېدل یا پیوستون دی. په تصوفي ادب کښې سالک خپله هستي له یو وجود څخه ګڼي خو د دهٔ هستي له مینځه ورِل کیږي. ډاکټر پرویز مهجور د وصلت په حقله لیکي:

"په وصلت کښې د واصل هره چاره او وینا په پیوستون سره وي. واصل یوه هستي هم په یوې هستۍ سره ویني او پېژني. د واصل خپله هستي له مینځه وتې وي. د وجود ګمان یې ورک وي او د یقین په رڼا یې خپله هستي نابوده وي. د هر کار فاعل په حقیقت کښې هم هغه یو فاعل ویني. په وصلت کښې واصل ته د ذکر فنا حکم وي"(52).

رحمان باباچي د حقیقت، معرفت او قربت تر مقام راتېرېږي روح یې ځلا موندي او د وصلت د مقام په انتظار دی، و دې مقام ته په رانژدې کېدو یې روح د کمال اوج ته رسېدلی خو د نور پر مخ تګ دپاره لېواله دی:

منتظر دي د وصال د ګلستان یم تل تر تله
سر تر پایه د شبنم په څېر چشمان دی زما روح
چي حاصله مي له حسنه روښنایي شوه په طلب کښې
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زما روح"(53)

له دې پرته یې په یو بل بیت کښې هم وصلت ته اشاره کړې:

چي هستي واړه نېستي کاندي واصل شي
ګند کچکول دي قلندر غواړي عوض"(54)

د وصلت مقام ته رسېدو سره په دې انداز ګویا دی:

څه حاجت دی چي وبل خوا ته یې غواړم
په خپل کور کښې همکنار دی رب زما"(55)
ما رحمان د یار وصال په اسانۍ موندلی نهٔ دی
زرد رویي مي سرخ رویي په ځیګر خون شوه الغیاث"(56)

وحدت: وحدت لغوي معنٰی یو والی دی، په تصوفي اصطلاح کښې د سالک هستي په ذات حق کښې فنا کېدو ته وحدت وئیل کیږي. یعني د سالک اراده، عمل او هر څهٔ هغه مقام ته ورسیږي چي په حق کښې فنا شي.

انساني هستي په مثال د څاڅکي او ذات حق په مثال د بحر وي. په وحدت کښې د سالک هستي داسې فنا شي لکه څاڅکی چي په دریاب یا بحر کښې ضم شي.

وحدت په روښاني تصوف او په نورو صوفيانه سلسلو کښې يو منزل ګڼل کيږي خو دا منزل عموماً عارضي په دې سوب وي چې سالک له دې ځخه پر مخ ځي او وروسته پر مختګ کوي.
د وحدت مقام ته رحمان بابا په خپلو ډېرو اشعارو کښې اشاره کړې ده.

ښه چې تن مي توی تومنه شو په عشق کښې
ها له ځاځکی د شبنم وم اوس دريا شوم"(57)

بل ځای يې دې مقام ته داسې اشاره کړې ده:

هسي رنګ مي د خپل زړۀ له وينو واخيست
چي ځان درست راته په شکل د جانان دی"(58)

د وحدت مقام کښې سالک له خفي شرک ځخه ځان خلاصوي او ځان يا نفس هيڅ ګڼي او ټول قدرت او صفات د ذات حق ګڼي. د سالک بشري صفات چې کله له مينځه ځي.
سکونت: سکونت د روښاني تصوف تر ټولوستر مقام دی چې په نورو تصوفي سلسلو کښې ورته مقام بالله هم وئېل کيږي. پروفېسر ډاکټر پروېزمهجور د دې مقام په حقله وايي:
"د وحدت د سير نه د سکونت (بقا بالله، سير بالله عن الله) سېر ته يا، رجوعي او نزولي سېر، يا" انهايت رجوع الی البدايت، ته چې اول د مبتي مقام وي او چې د عروج نه بېرته دې مقام (تعين او تقيد) ته بيا راشي، نو بيا دا د منتهی مقام شي"(59)
مقام سکونت چونکې د سالک دپاره تر ټولو لوړ مقام دی ځکه په بله معنٰی سالک قرار موندي، هستي يې فنا شي.
ملا ارزاني د سکونت د مقام انځور داسې وړاندې کړی:

سکونت شېوه ښۀ خوی دی :: ساکن ګل دی يار يې بوی دی
په هر دم په دا خپل کور کښې :: تل له ياره روی بروی دی"(60)

رحمان بابا د سکونت په نورو ټکو کښې مقام فنا په حقله وايي:

هغه ځۀ پوښتې له هجره له وصاله
چي په خپله هم محب شي هم محبوب"(61)

يا وايي:

مګر ځان و خدای ته وسپاري امان شي
ګنه بله خوا د هيچا امان نۀ شته"(62)

پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه د رحمان بابا د لاندې ورکړل شوي شعر په حقله وايي:

"لکه متن له معنٰی، معنٰی له متنه
یار هم هسې دی زما په دل و جان کښې

په دې شعر کښې د حقیقي عشق د ادراکاتو او وارداتو له مخه د وجود د وحدت ښکاره معنٰی ده چې د تصوف په اصطلاح کښې ورته فنا في الذات هم وايي"(63)

د رحمان بابا شاعري په لومړي نظر کښې د اخلاقیاتو ټولګه معلومېږي. لوستونکي ته دا خبره په اثبات رسول ګران شي چې رحمان بابا د طریقت په کومه سلسله کښې بیعت ؤ؟ د دۀ پیر څوک ؤ؟ د کومو تصوفي نظریاتو قائله ؤ او د کوم مخالف ؤ؟ دا ډول نوري پوښتني هم د لوستونکي په خیال کښې راپورته کیږي. خو د رحمان بابا دیوان چې په وئیلو کښې څومره ساده او اسانه ښکاري، هغه ډول نۀ دی. د رحمان بابا دیوان د هغه مړو اوبو په شان دی چې د سیند په هغه برخه کښې بهیږي چې زښتي ژوري وي.د رحمان بابا په شاعري کښې د روښاني مقاماتو اثرات پر لاندې ورکړل شوي شعر پای ته رسوم خو د رحمان بابا په شاعري کښې چې په نورو تصوفي سلسلو کښې مقبول کوم مقامات دي د هغوی سرسري جائزه اخلم. دا بحث دلته په دې سوب راوړم چې د رحمان بابا د روحاني سفر منزلونه پر یو ځای په پر له پسې توګه را په ګوته شي. رحمان بابا وايي:

همېشه به له مقامه بې مقام وي
هغه څوک چې لټوي مقام دستا"(64)

❀❀❀

# حوالې


(1) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، چاپ اداره او سن؟. مخ ۲۷۷
(2) خلیل، حنیف، دیوان رحمان بابا ،دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۵، مخ ۴
(3) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۵۲،۵۳
(4) خوېشکي،ډاکټر پرویز مهجور،دیوان مرزا خان انصاري، پښتو اکېډمۍ پېښور،۲۰۰۴، مخ ۲۳
(5) خلیل، حنیف، دیوان رحمان بابا ، مخ ۴
(6) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور، دیوان مرزاخان انصاري، مخ ۹۱
(7) خلیل، حنیف، دیوان رحمان بابا ، مخ ۴۱۶
(8) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور، د ارزاني خوېشکي کلیات، پښتو اکېډمۍ، پېښور،جون ۲۰۰۵، مخ ۲۷۸
(9) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ،مخ ۳۷۱
(10) خلیل، حنیف، دیوان رحمان بابا ،مخ ۴۱۶
(11) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،دیوان مرزا خان انصاري،مخ ۱۴
(12) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۱۹۰
(13) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،دیوان مرزاخان انصاري، مخ ۱۱۴
(14) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۳۰۶
(15) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،دیوان مرزاخان انصاري، مخ ۸۰
(16) ایضاً، مخ۱۸۷
(17) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۳۴۳
(18) روښان، بایزید انصاري،خیرالبیان،مقدمه، عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمۍ، پېښور، ۱۹۸۷،مخ ۳۸۴
(19) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،دیوان مرزاخان انصاري، مخ ۳۱
(20) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،دیوان علي محمد مخلص، پښتو اکېډمۍ، پېښور، س ن، مخ ۵۱
(21) رسا، سید رسول، دیوان رحمان بابا ، یونیورسټي بک ایجنسي، مارچ ۲۰۰۹، مخ ۲۴۳
(22) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،د ارزاني خوېشکي کلیات، مخ ۸۱۵

(23) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۱۵۱
(24) ایضاً، مخ ۴۴۶
(25) رسا ، سید رسول، دیوان رحمان بابا ،مخ ۳
(26) خلیل، حنیف، دیوان رحمان بابا ، مخ ۱۸۲
(27) راهي، پروفیسر فهم دل، عارف رحمان،رحمان ادبي جرګه، پېښور، ۱۹۸۶، مخ۱۳
(28) خوېشکی، پروفېسر، ډاکټر، پروېزمهجور، روښاني تصوف، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټی، مخ ۶۰
(29) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ۲۲۱
(30) روښان، بایزید انصاري،خیرالبیان،مقدمه، عبدالقدوس قاسمي، مخ ۳۸۶-۸۷
(31) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،دیوان مرزاخان انصاري، مخ ۳۱
(32) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۳۰۶
(33) ایضاً، مخ ۱۶۸
(34) رفیع حبیب الله، رحماني خم، مخ ۲۱۰
(35) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۴۶۴
(36) خوېشکی، ډاکټر پروېزمهجور، روښاني تصوف، مخ ۷۹
(37) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۲۲۳
(38) ایضاً، مخ ۳۲۰
(39) ایضاً، مخ ۵۱۳
(40) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،د ارزاني خوېشکي کلیات،مخ ۷۳۸
(41) داود، پروفېسرداورخان، د رحمان بابا ژوند، تعلیمات او شاعري، جدون پرنټنګ پریس، پېښور،۱۹۹۷، مخ ۶۴
(42) روښان، بایزید انصاري،خیرالبیان،مقدمه، عبدالقدوس قاسمي، مخ ۳۹۳
(43) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور،دیوان مرزاخان انصاري، مخ ۴۰
(44) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۲۸۴
(45) ایضاً، مخ۴۳۱
(46) ایضاً، مخ ۴۱۴
(47) ایضاً،مخ ۱۴۴
(48) داود، پروفېسرداور خان، رحمان بابا ژوند تعلیمات او شاعري، مخ ۶۳
(49) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا ، مخ ۴۲۶

(50) ایضاً، مخ ۳۹۴
(51) ایضاً،مخ ۱۸۶
(52) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور، روښاني تصوف، مخ ۹۱
(53) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا، مخ ۱۸۰
(54) ایضاً، مخ ۲۳۱
(55) ایضاً، مخ ۱۰۲
(56) ایضاً، مخ ۱۷۶
(57) ایضاً، مخ ۲۷۱
(58) ایضاً، مخ ۴۱۵
(59) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور، روښاني تصوف، مخ ۹۷
(60) خوېشکی، ډاکټر پروېز مهجور، د ارزاني خوېشکي کلیات، مخ ۷۵۰
(61) ایضاً، مخ۱۷۱
(62) ایضاً، مخ ۳۲۲
(63) رحمان پوهنه (د مقالو ټولګه)، رحمان ادبي جرګه، پېښور، نیو شهزاد پرنټرز، محله جنګي، پېښور، ۱۹۹۳، مخ ۱۸۸
(64) رفیع، حبیب الله، دیوان رحمان بابا، مخ ۱۲۲